# شریعت
ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲۶۹ ګڼه / سه شنبه ۰٤ ربیع الاول ۱٤٤٥ هـ.ق / ۲۸ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۹ سپتمبر ۲۰۲۳ میلادي


## مولوی عبدالسلام حنیفی: تحکیم نظام اسلامی و تنویر اذهان عامه مسوولیت علما است

مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست الـوزرا امارت اسلامی افغانستان در دیدار با شماری از علما تحکیم نظام اسلامی، تنویر اذهان عامه و ایجاد وحدت میان اقشار مختلف مردم را مسوولیت علما خواند.دفتر مطبوعاتی معاونیت اداری ریاست الوزرا، در خبرنامه‌ای نوشته است: مولوی حنفی در دیدار با شمار از علما و متنفذین افغان مقیم عربستان سعودی گفت: امارت اسلامی تأمین امنیت سرتاسری و ایجاد رفاه برای مردم کشور را از تعهدات خود می‌داند و علما نیز در تحکیم نظام، ایجاد وحدت میان مردم و تنویر افکار عامه از هیچ‌گونه تلاشی باید دریغ نکنند.حاجی قاری مخدوم محمد و حاجی قاری احسان الله به نماینده‌گی از این علما گفتند: «با استقرار دوباره نظام اسلامی در کشور امنیت سرتاسری تأمین و تسهیلات خوب زندگی برای شهروندان کشور فراهم شده است که این یک نعمت بزرگی ... ص۷

# اسلامي امارت له نړۍ سره د تعامل برخه کې ښه پرمختګ کړی



د کورنیو چارو سرپرست وزیر خلیفه سراج الدین حقاني افغانستان لپاره د چین له سفیر ژیوچینګ سره د لیدنې ترڅنګ د اسلامي امارت له لوري نوموړي ته د هر راز همکارۍ ډاډ ورکړی. نوموړي د چین هېواد له پخواني سفیر څخه مننه کړې، چې افغانستان کې یې خپل ماموریت په ښه توګه سر ته رسولی او دغه راز یې د چین او افغانستان اړیکې په سختو حالاتو کې ... ۷مخ

مولوی ندامحمد ندیم:

## حکومت؛ تحصیلات عالی را با معیارهای بین المللی برابر میسازد




شیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرست وزارت تحصیلات عالی، از موسسه تحصیلات عال غور دیدن کرده و در نشست با استادان تاکید کرد که امارت اسلامی اراده دارد تا تحصیلات عالی کشور رابا معیار های بین المللی برابر سازد. به گزارش آژانس باختر؛ در این نشست ... ص۷

## د ملا نورالله نوري په مشرۍ مل پلاوي حیرتان بندر وکوت

د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست وزیر ملا نورالله نوري او مل پلاوي شمالي ولایتونو ته د خپل سفر په اوږدو کې د بلخ ولایت له حیرتان بندر څخه د یاد بندر خایي مسولینو په شتون کې لیدنه کړې.په دې لیدنه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو سرپرست په یاد بندر کې له ځايي مسولینو، اداري تاسیساتو او د حیرتان بندر له صفري نقطې څخه لیدنه د سفر موخه یاده کړې. همداراز ښاغلي نوري زیاته کړې، چې له ازبیکستان هېواد سره یې دوه اړخیزې اړیکې تر بل هر وخت اوس ښې دي. نوموړي د ترانزیټ او سوداګریزو راکړو ورکړو په اړه خوښي ښودلې او د صادراتو او وارداتو د زیاتوالي په اړه یې ډاډ څرګند کړی.

## د کابل ۱۰ څلور لارې په څراغونو ښکلې شوې

د ترافیکو د عمومي ریاست له لوري د پلازمینې کابل ښار په ۱۰ څلور لارو کې نصف شوي ترافیکي څراغونه د یوې غونډې په ترڅ کې په رسمي ډول پرانیستل شول، غونډه پرون د احمدشاه بابا مینې په لومړۍ څلورلارې کې جوړه شوې وه، په یاده غونډه د کورنیو چارو وزارت د ریس ارکان عبدالرحیم احمد،دترافیکو ... ۷مخ



## لت‌وکوب و تنبیه بدنی، شاگردان را پرخاشگر به بار می‌آورد



درحالیکه معلم می‌تواند با شیوه‌های علمی و با بر خورد معقول و مناسب برای‌شاگران پیام خود را برساند و از خشونت کار نگیرد، اما شوربختانه که اکثر معلمان مکتب‌ها و مدرسه‌ها با شیوه تنبیه، تحقیر و لت‌وکوب به‌رسانیدن پیام خود شان برای شاگردان استفاده می‌کنند. شیوه که نه در اسلام دیده می‌شود و نه در علم روان‌شناسی.
چون در اسلام چنین شیوه‌ای «لت‌وکوب» اصلاً دیده نشده و روان شناسان نیز به شدت شیوه فهماندن شاگردان را با لت‌وکوب غیر عقلانی دانسته و حتا بر این باور استند که این شیوه تاثیرات منفی برای شاگردان در آینده‌ها دارد و شاگردان، پرخاشگر و با روحیه منفی و خجالتی به بار می‌آورد.
از سوی‌هم گفته می‌توانیم که لت‌وکوب کودکان نه تنها در نهاد های آموزشی، بلکه در اکثر خانواده‌ها این برخورد غیر عقلانی وجود دارد. دلیل اینکه چرا در خانواده‌ها لت‌وکوب و این شیوه غیر انسانی وجود دارد در بیسواد بودن والدین، فقر و تنگدستی و نیز جنگ‌های چهار دهه اخیر می‌باشد.
در واقع وقتی والدین ... ص۷

## کار ساخت سرک بلاک های هوایی شهر کابل آغاز شد

شاروالی کابل، کار ساخت سرک از جادۀ میدان هوایی تا بلاک های هوایی، مربوط ناحیه دهم شهر کابل را آغاز کرد . به گزارش آژانس باختر: این سرک به درازای ۹۰۱ متر و پهنای ۱۹،۳ متر، طی ۷ ماه به شکل پخته و اساسی ساخته می شود.همزمان با کار ساخت این سرک، کار تخریب و پاکسازی موانع در مسیر آن نیز به پیش میرود تا زمینه تطبیق بهتر کار ساخت سرک یادشده فراهم شود.




بحث فراگیر بودن و فراگیر نبودن حکومت مسأله داخلی است — ص ۲

د حق او باطل پر وړاندې د اسلامي مبارزې تګلاره — ۳ مخ

بیت‌الحکمه چگونه منبع الهام‌بخش علوم در جهان شَد؟ — ص ٤


## د دولتي شرکتونو د ارزونې کمېټې غړو د یو شمېر شرکتونو چارې و ارزولې

د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه (امیر المؤمنین حفظه الله) له لوري د دولتي شرکتونو د وضعیت ارزونې په موخه د مولوي احمد جان بلال په مشرۍ د ټاکل سوي ځانګړې، ګډې، تخنیکي کمېټې غړو د آزادۍ مطبوعي، د غوښو او لبنیاتو د چمتو کولو، افغان تور او د مکروریانونو د ساتنې او څارنې دولتي شرکتونو څخه له نږدې لیدنې وکړې.د مولوي احمد جان بلال په مشرۍ، چې د اقتصاد وزارت سرپرست قاري دین محمد حنیف، د چارو اداري لوي رئیس شیخ نورالحق انور او یو شمېر نورو مسؤلینو ئې هم ملتیا کوله د یادو دولتي شرکتونو د ودانیو، عملي چارو، اداري جوړښت، ماشینونو، سیستمونو، شته ظرفیت او موجودو امکاناتو څخه له نږدې لیدنه او ارزونه وکړه.د شرکتونو مسؤلینو د خپلو شرکتونو د تولیداتو او خدماتو په تړاو معلومات وړاندې کړل او د چارو د لا پرمختګ په موخه ئې په ځینو برخو کې د همکارۍ او ملاتړ غوښتنه وکړه، چې د کمېټې له لوري ورته په اړوند برخو کې د ملاتړ او همکارۍ بشپړ ډاډ ورکول شو.

## بهره برداری و تهداب گذاری ۲ مکتب درجوزجان

تاسیسات جدید یک مکتب درجوزجان دیروز به بهره گیری سپرده شد و همزمان،کار ساخت یک مکتب دیگر دراین ولایت آغازشد.شکرالله خان یک باشنده ی محل، بیش ازیک ملیون وچهارصد هزارافغانی ، هزینه ی ساخت تاسیسات جدید برای مکتب تازه نهر ولسوالی خانقاه را پرداخته است.تاسیسات جدید این مکتب، شش صنف درسی وبخش های اداری دارد. مولوی محمد طاهر جواد رییس معارف جوزجان به آژانس باخترگفت: تاسیسات پیشین این مکتب، کهنه شده بود و قابل استفاده نبود.
همچنان کارساخت تاسیسات جدید برای مکتب قریه ی خان اریغ ولسوالی مردیان جوزجان دیروزآغازشد. ص۷

سرمقاله

## پاکستان بل څه نه، یوازې خپل کرلي ریبي!


ښايي هغه ورځې به د ټولو په یادوي چې امریکایي کبرجنو واکمنانو د افغانستان پرخلاف پرته له څه جرمه د یو ستر صلیبي جنګ اعلان وکړ او له ګردې نړۍ یې وغوښتل چې یابه له دوی سره اوږه پر اوږه درېږي او یا به د دوی پر خلاف ګڼل کېږي ،هماغه وو چې زموږ د مسلمانو ګاونډیو په شمول د نړۍ لسګونو هېوادونو له صلیبیانو سره د حشر ملا وتړله او ځاني، مالي ،استخباراتي او نورې هراړخیزې مرستې یې ورسره پیل کړې، خو دا واقعیت له هېچا پټ نه دی چې د پاکستان واکمن بیا په دې ملګرتیا کې تر بل هر چا زیات جدي او مخلص وو، تر دې چې همیشه او ان لاتر اوسه هم په ډېر افتخار نارې وهي چې د دوی په وینا له ترهګرۍ سره د جګړې په ړومبۍ کرښه ولاړ دي البته د دې ترهګرۍ حقیقت دل مر په شان روښانه او څرګند و، یعنې د افغانانو او ټولو هغو مخصلو مؤمنانو پر خلاف جګړه کول څوک چې د امریکې له غلامۍ انکارکوي له بده مرغه زموږ مسلمان وروړګاونډي پاکستان په همدغه ظالمانه کفري یرغل کې په ډاګه د هماغه قادر جل جلاله د دښمنانو ترڅنګ ودرېد، د څو ناچیزه پیسو په هیله یې خپله پاکه خاوره کې هوایي اډې ورکړې، تر شلو کلونو د صلیبي لښکرو د اکمالاتو لپاره هوایي او ځمکنۍ لارې ورکړې د هغوی دفاع او څوکیداري یې کوله، په زرګونو مؤمنان یې را ونیول ویې وژل، زندان ته یې واچول او ژوندي لاس ترلي یې د الله تعالی په دښمنانو خرڅ کړل ، خپلې ... ۷مخ

## کابل کې په زړه سوري ۳۰ ماشومانو درملنه کېږي

د افغاني سرې میاشتې ټولنې پر خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې د سوري زړه ماشومانو د درملنې بهیر په دوام، ۳۰ تنه ناروغ ماشومان یې په کابل کې د درملنې لپاره دوو روغتونونو ته معرفي کړي دي. دغه ټولنه وایي چې په ۱۴ میاشتو کې کابو ۱۸۰۱ هغه ماشومان چې د سوري زړه ناروغي یې لرله، د درملنې لپاره د هېواد روغتونونو ته معرفي شوي دي.

معین وزارت صحت عامه:

## خدمات صحی در دورترین نقاط کشور ارائه می شود



معین وزارت صحت عامه، از ارایه خدمات صحی در تمام نقاط افغانستان، ازجمله دور دست ها، خبرداد.او در سفر به بلخ ،در مصاحبۀ با آژانس خبری باختر می گوید که با تحکیم امارت اسلامی در افغانستان، در دور ترین نقاط کشور نیز مراکز صحی ایجاد شده است و برای ... ص۷

## مجاهد:

# بحث فراگیر بودن و فراگیر نبودن حکومت مسأله داخلی است

نویسنده: احمد

در جهان امروز نظام ها تحت عناوین مختلف عرض اندام نموده اند مانند: پادشاهی مشروطه، پادشاهی مطلقه، دولت های موقت، دولت های تک حزبی، جمهوریت پارلمانی، جمهوریت ریاستی و ... اما مسلمانان بعد از بعثت پیامبر گرامی اسلامی (ص) در سده هفتم میلادی از شبه جزیره عربستان، دست به تشکیل نظام های اسلامی زدند که بدون شک توسعه تاریخی اسلامی بر ساختار سیاسی، اقتصادی و نظامی چه در خارج و چه در داخل جهان اسلامی تأثیر گذاشت، اما امروز شماری از کشورهای قدرتمند جهان، بدون این که به تاریخ جهان اسلام رجوع کنند، در صدد تحمیل نظام های دلخواه خود بردیگر کشورها به ویژه نظام های اسلامی اند، در حالی که حکومت های اسلامی در مطابقت به شریعت غرای محمدی (ص) راه و روش منحصر به خود را دارند؛ قرآن عظیم الشأن و احادیث پیامبر گرامی اسلام (ص) سرمشق و ترسیم کننده راه و روش نظام های اسلامی و تطبیق کننده عدالت اجتماعی است، زیرا مسلمانان به این باور اند که تطبیق شریعت اسلامی و احکام الهی در نظام های اسلامی، سبب خیر و فلاح ملت مسلمان هم در دنیا و هم در آخرت می شود و نظام های سکولاریزم، لیبرالیسم و ... هیچگاهی جواب گوی رفع معضلات در جامعه نخواهند بود.

روی این اساس نظام کنونی افغانستان هم با حفظ حدود و قوانین اسلامی می تواند در قالب امارت اسلامی، جنبه عملی بیابد، طبیعی است، حاکمیت در چنین حکومتی از آن خداوند است، مهمتر از همه رجوع به آرای عمومی نیز در چارچوب احکام دین صورت می گیر د.

به تازگی سفارت امریکا برای افغانستان که از دوحه ی قطر فعالیت می کند، بار دیگر با تمام پررویی بر ایجاد حکومت فراگیر در افغانستان، تأکید کرده و گفته که شکل گیری حکومت فراگیر در افغانستان، سبب می شود تا صدای همه افغانان شنیده شود که این نسخه تکراری و باطل کشورهای غربی به خصوص امریکا واکنش هایی را در سطح افغانستان به همراه داشت.

مولوی ذبیح الله مجاهد سخنگوی امارت اسلامی گفته است که این خواست ها از سوی حکومت کنونی پذیرفتنی نیست و بحث فراگیر بودن و فراگیر نبودن حکومت امارت اسلامی مسأله داخلی افغانستان است که کشورها نباید در آن مداخله کنند، اگر فراگیر به این معنا باشد که اقوام مختلف در حکومت جا داشته باشند، همین نظام کونی متشکل از تمامی اقوام ساکن در کشور است.

آگاهان امور سیاسی به این باور اند، امریکا این بار میخواهد که زیرنام دموکراسی وارزشهای آن، اغراض و اهداف خود را تعقیب کند، اما بدانند که امروز نه تنها مردم افغانستان بلکه جهان نیز پی برده اند که امریکا در طول تاریخ نقش جنگ افروزی را داشته با شعار ارزشهای دموکراتیک و حقوق بشر به کشورها هجوم می آورد تا اهداف خود را دنبال کند.

بنابراین اگر امریکا و زمامداران آن اندکی وجدان بیدار داشته باشند به جای ترسیم خط و نشان و مداخله در امور داخلی افغانستان، در بازسازی مخروبه هایی که در بیست سال پسین از دست امریکا و شرکایش در این کشور صورت گرفت، سهم بگیرند، زیرا آبادانی و شکوفایی یک کشور به خصوص افغانستان به پایتخت و چند شهر، خلاصه نمی شود.

امروز اگر جوانان ما از عدم اشتغال در راه مهاجرت طعمه ماهی ها و یا غرق دریاها می شوند و یا هم در مسیر راه های صعب العبور جان می دهند و یا هم توسط قاچاقبران انسان زجر می شکند، دلیل آن تخریب زیرساخت های کشور توسط قوای اشغالگر امریکا و هم پیمانانش است. در حالی که اگر امریکا مانند شعارهایش در بیست سال حضور غیر قانونی اش در افغانستان، می خواست به مردم این سرزمین کاری را انجام دهد، باید به جای رایج ساختن استعمال مواد مخدر و مدهوش ساختن جوانان ما و نهادینه کردن فرهنگ مبتذل غربی به احداث راه ها، شاهراه ها، کانال های آب و زیر آب ساختن زمین های بکر و بایر مبادرت می ورزید، تا ملت پابرهنه افغانستان را از سرگردانی به ملک های دیگر، رهایی می بخشید .

روی این اساس ملت افغانستان با پشت سرگذاشتن روزهای سیاه به این نتیجه رسیده اند که هیچ بیگانه یی بدون اهداف و اغراض خود در کشور دیگر، دست به آبادی نمی زند و این خود افغانان اند که باید نظام دلخواه خود راحمایت و کشور را به توسعه و ترقی برسانند.

بنابراین مردم افغانستان از تمام کشورها به ویژه آنانی که در دو دهه اخیر بالای مردم ما بم افگندند، دهات، قصبات و زیرساخت های کشور را تخریب کردند می خواهند در چارچوب قوانین بین المللی راه تعامل را با مردم افغانستان در پیش گیرند و سهم خود را در بازسازی و عمران افغانستان ادا نمایند.

# اوسني اقتصادي خوځښتونه په مو ستونزې ورغوي

متین

څرګنده ده چې د اشغالګرو هېوادونو له خوا افغان مجاهد ولس ته خورا زیاتې ستونزې راپاتې شوې، ځکه په مرستو ولاړ اقتصاد خورا زیانمن شو، بهرنۍ مرستې او پانګونې له اقتصادي بندیزونو سره سمې بندې شوي او ورسره جوخت له نړیوالو سره د اسلامي امارت د اړیکو د ټینګښت په ورانديې خنډونه رامنځ ته شول چې تردې دمه دیپلوماتیکې اړیکې کمرنګه ښکاري، خو د اسلامي امارت د فعال دیپلوماتیک خوځښت له کبله د هرې ورځې په تېریدو سره د نړیوالو سوله غوښتونکو هېوادونو سره د متقابل تعامل لپاره لاره هوارېږي ځکه چې اسلامي امارت د نړۍ له ټولو هېوادونو سره چې زموږ په کورنیو چارو کې لاسوهنه نه کوي غبرږ پرانیستې پرېښې ترڅو د دیپلوماتیکو لارو اړیکو پیوند غښتلی او په نړیواله کچه د ستونزو په هواري کې ګډ کار ترسره شي. باید ومنو چې په یوازیتوب او یا د دیپلوماتیکو اړیکو د پیوند پرته د هرې وړاندوینې او ستونزې د حل لاره لټول ستونزمن ښکاري کېدای شي د ستونزو د حل له پاره دیپلوماتیکه لاره غوره وګڼل شي ترڅو اندېښنې له منځه ولاړې شي او د هېوادونو ترمنځ د راکړې ورکړې بهیر په مناسبو اړیکو بدلون ومومي. لیدل کېږي چې د اسلامي امارت د بیا واکمنۍ راهیسې په پرله پسې توګه نړیوال دروغجن تبلیغاتي کمپاین په لاره اچول شوی او د هرې ورځې په تېریدو سره دلاس وهونکو هېوادونو درواغجن تبلیغاتي کمپاین دروغجن ثابتېږي همدا وجهه ده چې د اسلامي امارت رښتیني انځور نړیوالو ته ورمعلومېږي چې یو شمېر هېوادونه دا مهال په خپلو کړو وړو فکرکوي چې په افغانستان کې اوسنی لاسته راوړنې درک کړي او د هغه څه په هکله ژور فکر وکړي چې د دوی لپاره هم د زیان وړ ګرځي . اسلامي امارت چې په کور دننه او بهر دغوندېو پر مهال نړیوالو ته د مثبت او متوازن تعامل له پاره د غېږې خلاصېدو خبره کړې تمه لري چې هرومرو به لاس وهونکي هېوادونه په دې پوه شي چې د اسلامي امارت په وړاندې د ستونزو او خنډونو پیداکول به اسلامي امارت په کړو وړو او دریځ کې هېڅ ډول بدلون رامنځه ته نه کړي ، ځکه اسلامي امارت د خلکو د ملاتړ له امله د یوه خپلواک هیواد په توګه خپل برخه لیک په خپله ټاکلی او په ټوله کې افغانان د خپل اسلامي امارت څخه د سر په بدله ملاتړ او دفاع کوي. همدا وجهه ده چې په لړ وخت کې مناسب او سراسري امنیت ټینګښت موندلی او اقتصادي بیاجوړونه رامنځ ته شوې ده . نړیوال باید ومني چې افغانان به د اوسنیو ستونزو څخه په بریالی توګه راوځي ځکه اسلامي امارت د هیواد د آبادۍ لپاره متې رانغښتي او د هغو لارو په لټون بوخت دی، چې زموږ د هیواد د آبادی لامل ګرځي . یو شمېر ګاونډي هیوادونه چې د اسلامي امارت روڼ او سوله ییز سیاست درک کړی د ښه ګاونډیتوب له پاره یې لاره هواره کړې او د اسلامي امارت سره په مختلفو برخوکې د همکارۍ لیوالتیا ښودلې ده. تازه د ازبیکستان لوړ پوړي پلاوي کابل کې د اسلامي امارت له مسؤلینو سره د سوداګریزو راکړو ورکړو ترڅنګ په ترانزیتي او مواصلاتي برخو کې د همکارۍ هوکړه لیکونه لاس لیک کړل په ورته وخت کې د ترکي ،چین او ترکمنستان دولتونو هم دهمکارۍ ژمنې ترسره کړې تمه ده چې د سوداګرۍ برخه مو لاپسې پراخه او اقتصادي کمزورتیا مو پرته د بهرنیو مرستو څخه پیاوړتیا ومومي. پوهیږو چې د اسلامي امارت په وړاندې خورا زیاتې اقتصادي ستونزې راپاتې دي، خو اسلامي امارت تردې دمه پورته شوي ګامونه راپه ګوته کوي چې دخدای (ج) په مرسته او دمسؤلینو په هلوځلو به په شته ستونزو اوبندیزونو برلاسي پیدا شي او هغه هیوادونه چې زموږ په هیوادکې د ناورو او بېځایه موخو د ترلاسه کولو په لټون بوخت دي دېر ژر پښېمانه او په خپلو کړو وړو به ناراضه وي. لیدل کېږي چې د ځینو اشغالګرو هیوادونو سوداګر زموږ په هیواد کې دامنیت له امله تیاري ښایي چې پانګونه وکړي چې له امله یې ځینې پانګول کابل ته راغلي وو، هغوی چې د اسلامي امارت لاسته راوړنې او داقتصادي بندیزونو سره سره دانفلاسیون دمخنیوي په وړاندې مظبوط اوعملي ګامونو پورته کول تمه پیدا شوه چې افغانان کولای شي چې دکمو امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره د هیواد ورانې ویجاړې جوړې کړي ،ځکه داسلامي امارت مسؤلین دخپل هیواد سره مینه لري او د خپلو هیوادوالو له پاره د هیواد د پرمختګ او هوساینه په لومړیتوب کې شمېري. هېوادوال دې داډه اوسي چې د هیواد شتمنۍ به یې د هیواد په آبادي اوسمسورتیا لګښت ومومي او اسلامي امارت به هڅه وکړي چې د ځان بسیا کولو له پاره هغه لارې ولټوي چې اړینې اوګټورې وي.

# دمګرۍ کورنۍ او بهرنۍ پانګونې ته ښه زمینه برابره شوې

احمدراشد

د خوښۍ ځای دادی، چې افغانستان د تېرو څه باندې څلورو لسیزو جګړو او ناخوالو وروسته د پرمختیایي هېوادونو په لړ کې راځي او موږ ټول افغانان دمګرۍ د اقتصادي ودې او پرمختګ بهیر ته داخل شوي یو. موږ وینو چې نن سبا ډېرو بهرنیو پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته لیوالتیا ښودلې، چې په اوسني وخت کې دا د سیمې او نړۍ له هېوادونو سره د اسلامي امارت د غوره تعامل او اقتصادي نړدیوالي نښه ګڼل کېږي. داچې د نړۍ پرمختللي هېوادونه د اقتصادي ودې په موخه له افغانستان او یا نورو هېوادونو سره پانګونې ته اجازه ورکوي، د دې ښکاره دلیل دادی، چې دوی په کور د ننه خام مواد کم لري او یا داچې د چټکې اقتصادي ودې لپاره بسنه نه کوي، نو په داسې حالت کې اړ دي، چې له بهرنۍ پانګونې څخه ګټه پورته کړي، له دې ډلې یو هم افغانستان دی، چې لا تر اوسه خودکفا شوی نه دی او د پرمختیایي هېوادونو د ځانګړنو پر اساس د پانګې له کمبود سره مخ دی او هر څه له بهرنیو هېوادونو را واردوي، خو الحمدلله د اسلامي امارت په بیا واکمنېدو سره په افغانستان کې د خپلې اقتصادي ودې، پرمختګ او هوساینې لپاره هغه ټولې لارې چارې په کار اچولې، چې نن سبا به زموږ اقتصادي پرمختګ په غوړېدو راشي او په راتلونکې کې به مو د پردیو له احتیاجه خلاص کړي. هغه داسې ده، چې په دې وروستیو کې د اسلامي امارت مشرتابه کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د اسانتیاوو برابرولو په موخه د پانګونې بین الوزارتي کمېټه جوړه کړه، چې موخه یې د پانګونې په برخه کې د اسانتیاوو رامنځ ته کول او په ادارو کې د بیروکراسۍ ختمول دي. یاده کمېټه به د اقتصادي معاونیت تر چتر لاندې فعالیت کوي او په فعالیتونو کې یې د پانګونې لپاره د پلانونو پلي کول، د پانګونې د بهیر چټکتیا او روڼوالی رامنځ ته کول شامل دي، د یادونې وړ ده چې له دې وړاندې د امریکایي پانګوالو یوه پلاوي په افغانستان کې د کانونو په برخه کې پانګونې ته لیوالتیا ښوده.د امریکایي پانګوالو پلاوي ژمنه وکړه چې امریکایي پانګوال به افغانستان کې پانګونې ته وهڅوي چې ورسره به پام وړ شمېر افغانانو ته کاري فرصتونه برابر شي. د امریکا په شان چین او برېتانیا هم د افغانستان د کانونو په برخه کې پانګونې ته زړه ښه کړی او غواړي، د افغانستان خام مواد استخراج کړي، همدارنګه ملا عبدالغني برادر ترکیې د خپل سفر په لړ کې افغان او ترکي پانګوالو ته ډاډ ورکړ چې په افغانستان کې د امنیت په ټینګېدو سره د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې او اسلامي امارت د کانونو، کرنې، برېښنا تولید، زېربناوو، صنعت، مخابراتو، سوداګرۍ او نورو بېلابېلو برخو کې پانګونې ته اسانتیاوې برابرې کړي او د پانګوالو بشپړ ملاتړ کوي. له دې وراخوا بیا د کانونو او پټرولم وزارت له کورنیو او بهرنیو شرکتونو سره د څه باندې شپږ نیم میلیاردو ډالرو په ارزښت د اوو لویو کانونو د ایستلو او پروسیس تړونونه لاسلیک کړل چې د چارواکو په خبره لسګونو زرو افغانانو ته به کاري فرصت ورسره برابر شي. بهرنیو پانګوالو په افغانستان کې په داسې حال کې پانګونې ته زړه ښه کړی، چې اوس په ټول هېواد کې سرتاسري امنیت تامین شوی او د کورنیو او بهرنیو پانګوالو پر مخ ټولې پرتې ستونزې د حل کېدو په حال کې دي، له دې مخکې به پانګوال د خپلو پانګو په وېره کې و او نه یې شوای کولای چې خپلې پیسې له ځانه سره انتقال او یا یې په کورونو کې وساتي، خو اوس دا ستونزه کابو ۹۰ سلنه حل شوې او تازه آسیایي پراختیایي بانک په افغانستان کې د بیا فعالیت خبر ورکړی، چې د ۲۰۲۴ کال په جنورۍ او یا فبرورۍ کې به بېرته خپله څانګه په کابل کې پرانېزي، دغه راز د اسلامي امارت په راتګ سره د خلکو ځاني امنیت ساتل شوی او هغه وخت پای ته رسېدلی، چې په لکونو ډالر به یې د خپل ځان ، اولاد او کورنۍ په امن او سکون لګول او یا به یې د خپلې شتمنۍ د ساتلو لپاره په بهرنیو هېوادونو کې پانګونه کوله، مطلب داچې اسلامي امارت امنیتي ځواکونو د اختطاف لړۍ جرړې ایستلې او درګرده د انسان تښتونې پر ضد مبارزه روانه ده، د دې تر څنګ په کور د ننه اداري فساد صفر شوی، د غلو چور او چپاول مخنیوی شوی او په ټول هېواد کې د زورواکو له لوري بدې اخیستنې لړۍ ختمه شوې او هېڅکله به په غیر قانوني ډول له خلکو پیسې وانه خیستل شي. همدا لاملونه وو، چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته لېوالتیا نه درلوده، اوس چې په هېواد کې د کورنیو او بهرنیو پانګوالو لپاره د پانګونې لپاره زمینه برابره شوې، نو په کار ده، چې پانګوال په ډاډه زړه د افغانستان د اقتصادي ودې په پار پانګونه وکړي او بهرني پانګونې دې هم په افغانستان کې پانګې اچونې ته راجلب کړي.

# د بګرام زندان خاطرې

**لومړۍ برخه - قاري صدام بهير**



د معمول پـه څېـر ماښـام ناوختـه را ورسـېدم سترې وم د کتابـو بيـک مـې کېښـود؛ ډوډۍ مـزه نـه راکولـه درس مـې هـم سـر پـه درد کـړی ؤ دوه واړه ورونـه مـې هـم کابـل تـه راغلـي وو. پـه دغـه ورځ د ماخوسـتن لمونـځ مـې وکـړو پـه زړه هـم يـو څـه غمجـن وم د سنـــګر ملګـرى مـې ؤ تـرې خبـر شـوم واى هغـه يـې مـزار کـې نيولـى ده، د مـزار پـه قـول اردو يـې استشـهادي عمليـات کـړي ؤ ټـول ملګـرى يـې شـهيدان شـوي وو، يواځـې معـاذ تـرې پاتـې وه هغـه يـې ژونـدى ګيـر کـړى ؤ د لغمـان د مرکـز اوسـېدونکى دى، سـندلى کـې ننوتـم د ژمـې شـپې وې لـه يـو څـو دقيقـو وروسـته پـه ځـان نـه وم پـوه شـوى.

د شـپې مـې خـوب ليـده چـې کوماندويانـو زمـوږ پـه کوټـه چاپـه اچولـې ده او پوځـي پوزيشـن کـې يـې زمـوږ کوټـه محاصـره کـړې ده يـو کمانـډو يـې را نـږدې شـو شيشـه يـې دروازې تـه يـې لغتـه ورکـړه، چـې پـه رښـتيا وو د دروازې ګـرز جـګ شـو عملـي چاپـه مـې پـه خـوب ليـده ، لـه خـوب سـره د رښـتيا وو محاصـره شـوم ډېـر پـه تيـزۍ را ننوتـل او زمـا سـر تـه ودرېـدل، د سـر لـه وېښـتو يـې ونيولـم د دروازې خواتـه يـې وار کـړم پنځـه شـپږ عسـکرو يـو او بـل تـه پـه څپېـړو ورسـولم، بېـرون يـې يـخ تـه ودرولـم پـلار مـې ډېـر حيـران حيـران کتـل پـه مـخ يـې د خپګان اثـرات ليـدل کيـدل، د چاپـې وهـم او تـرس اخيسـتى ؤ، پـه مـا يـې د دوى وحشـيانه چلنـد نـه لورېـدۀ، خـو ښـه شـو د پـلار لـه سـترګو يـې پنـاه کـړم ټليفـون يـې را پسـې راوړ واى دا د چـا دى؟ مـا ويـل زمـا دى.

مـخ يـې واړوه واى هـدف بـه دسـت امـد؛ سـترګې يـې را وتړلـې دوه نفـرو لـه اوږو ونيولـم، د اي نصـف شـو مـا را از خـواب کشـيدي اوغـان غـو... هېـڅ مـې نـه ويـل روان وم، لاسـونه مـې شـاته ولچـک وو، قـدم مـې سـم پـر ځـاى نـه ايښـوده، عسـکرو هـم رشـخند را بانـدې وهـه، د دروغـو بـه يـې وويـل مخکـې دې اوبـه دي قـدم دې جـګ واخلـه لـه دې سـره بـه ټولـو وخنـدل. رنجـر تـه يـې چـې ورسـولم نـه سـوم ورختلـى چـې څنګـه ور پورتـه شـوم لـه شـا يـې پـه کُنـداغ ووهلـم او د رنجـر بـاډۍ تـه ور خطـا شـوم. د يـو عسـکر زړه را بانـدې بـد شـو، هغـه بـل تـه يـې ښـکنځل وکـړل واى دا قـاري دى، خـو پـه همـدې يـې سـره جنجـال شـو تـر اخـره همـدې عسـکر داډ راکاوۀ، خيـر دې اوسـې لـږ افغانيـت پکـې ؤ. صفـر يـک تـه يـې چـې ورسـولم يـوه نيمـه بجـه وه، څارنـوال يـې لـه خـوب را ويـښ کـړ، د سـپي غونـدې يـې غپـل، غوصـه ؤ. زمـا سـترګې پټـې وې وار د مخـه يـې څپېـړې پيـل کـړې، عسـکرو تـه پـه خطـاب شـو ببـرش صبـح بـاز کيـش ګـپ ميزنيـم، لاسـونه مـې ولچـک وينـې کـړې ؤ يـو اطـاق تـه يـې بوتلـم، پـر څوکـى بـه څنګـه سـړې تـه خـوب ورشـي؟

پـه فرنېچـر څوکـۍ ناسـت وم مخامـخ راتـه اوکرايـن جاپـان بُخـارى چالانـده وه، پلاسـتيکى ولچـک مـې لاس کـې ورو ورو تنګېـده سـر مـې يـو بغـل تـه ايښـى وه ،پرېشـانى وړى وم، د راتلونکـې ترخـې خاطـرې پـه انتظـار وم، لـه کړکـۍ څخـه لـږ رڼـا را ښـکاره شـوه، عسـکر تـه مـې وويـل لمونـځ بـه وکـړم، هغـه ولاړ او بيـا بېرتـه راغـى؛ واى قومنـدان اجـازه نـه ورکـوي. لـږ سـاعت نـور هـم انتظـار شـوم، لمـر شـايد راختلـى ؤ، چـې يـو کـس را ننوتلـو چـې مـوږ يـې وليدلـو، عسـکر تـه يـې وويـل سـترګې يـې ور پټـې کـړئ، عسـکر راغلـو پـه قهرجـن انـداز يـې خلتـه سـرته را واچولـه او بغيـر لـه څـه ويلـو يـې د لاس کـش سـره زمـا لـه مـخ لمبـه پورتـه کـړه، جهـاد لـه مـوږ سـره کـوې؟! لـه غـوږ مـې لا د تېـرې څپېـړې غـږ نـه وو ورک شـوى، چـې د بلـې څپېـړې ښـکار شـوم، لـه مـا ولاړ، زمـا پـه شـان يـو بـل همدوسـيه تـه يـې سـر پـه سـر څپېـړې ورکـړې، چـې پـوزه يـې وينـې شـوه. عسـکر ورتـه ويـل بـس اسـت، څارنـوال مـخ را تـاو کـړو ويـل يـې، يـک بـار چـاى بخوريـم.

هغـوى ولاړل، مـوږ پـه خپـل ځـاى وو څـه بـه مـو کـول، لکـه يتيمـان چـې يـوې مـړې ډوډۍ تـه انتظـار کـوي، يتيمانـو تـه بـه ډوډۍ مـزه ورکـړې او وبـه يـې خـوري، خـو زمـوږ هېـڅ هـم پـه واک کـې نـه وو.

د دروازې ګـړب شـو چـې يـو ږيـرې والا سـړى را ننـوت، زړه کـې خوشـحال شـوم مـا ويـل اوس بـه مـو دمـه جـوړه شـي، خـو ګمـان مـې غلـط وخـوت، دې ظالـم داسـې ظلـم راسـره وکـړ، تـا بـه ويـل چـې کـوم يهـودي دى، څوکـۍ تـه مخامـخ راتـه ودرېـده، لا د تېـرو څپېـړو ګنګسـيت نـه و ختـم شـوى، چـې دۀ هـم لـه پاسـه څـو نـورې څپېـړې راکـړې او اخـر کـې يـې مخامـخ لغتـه راکـړه چـې د بـوټ چـاپ يـې زمـا پـر مـخ پاتـې شـو. لـه چوکـۍ و غورځېـدم، لاسـونو مـې درد شـروع کـړ، پلاسـتيکي ولچکـو بيخـي قيـد کـړم، ورتـه ومـې ويـل لاس مـې ژوبـل شـو، بلـه لغتـه يـې پـه لاس ووهلـم او عسـکر تـه يـې وويـل را پورتـه يـې کـړه.

**نور بيا...**

# د حق او باطل پر ورانـدې د اسلامي مبارزې تګلاره

**نوراحمد شاکر**

د مبارزې ضرورت او اهميت

هـر اسـلامي مبـارز بايـد درک کـړي، چـې د حـق او باطـل تـر منـځ مقابلـه لـه اولـې ورځـې را شـروع او تـر قيامتـه بـه دوام پيـدا کـوي، پـه لومـړي ځـل شـيطان لـه ادم عليـه السـلام سـره د دښـمنۍ تـار وغځـوه، هغـه وو چـې ادم عليـه السـلام تـه لـه سـجدې کولـو منکـر شـو او اللـه تعالـى لـه همـدې املـه ملعـون وګرځـوه، خـو شـيطان چـې اللـه تعالـى وربانـدې لعنـت کـړي هـم دي، بيـا يـې هـم لـه مقابلـې او مبـارزې لاس ونـه خيسـت؛ بلکـې اللـه تعالـى تـه پـه خطـاب کـې وايـي، چـې زه بـه تـر اخـره سـتا د بندګانـو سـره پـه مبـارزه بوخـت يـم، پـه هـره سـمه لار کـې بـه ورتـه ناسـت اوسـم او لـه هيـڅ اړخـه بـه دوى پرينـږدم، تـر دې چـې تـه بـه پـه دوى کـې شـکر اخيسـتونکى ونـه مومـې، د شـيطان دا خبـرې د سـورة الأعـراف پـه ۱۶ او ۱۷ ايتونـو کـې ښـکاره ذکـر شـوي.

لـه آدم عليـه السـلام سـره د شـيطان لـه دښـمنۍ او مبـارزې څخـه را وروسـته بيـا تـر ننـه د حـق او باطـل منـځ د مبـارزې معرکـه ګرمـه پاتـه شـوې او همداسـې ګرمـه را روانـه ده، پـه اوس وخـت کـې چـې د باطـل لارويـان د حـق پـه وړانـدې څومـره پـه مکارانـه انـداز خپلـې مبـارزې تـه دوام ورکـوي، د سـړي ذهـن يـې هيـڅ نشـي منلـى، يـو چـا يـوه تجزيـه ليکلـې وه، پـه هغـې کـې وو، چـې يواځـې پـه منځنـى اسـيا کـې د اسـلام او اسـلامي علمـاء کرامـو د سـپکوالي لپـاره ٦٠ زره چينلونـه برحالـه پـه کار بوخـت دي، دا بيخـي لويـه شـماره ده، د دې لپـاره چـې د باطـل د لارويانـو د دې سـړې او مضـرې جګـړې مخنيـوى وکـړاى شـو، پـه وړانـدې يـې کلکـې مبـارزې تـه اړتيـا ده، دا کار او مسـؤليت د اسـلامي امـت ځوانانـو تـه متوجـه کيـږي، چـې څنګـه او څـه ډول کـولاى شـي، د کفـارو او د باطـل د لارويانـو د سـړې او فکـري جګـړې مخنيـوى وکـړي.

څو ډوله جګړه

د باطـل لارويـان لـه هـرې ممکنـه لارې پـه دې هڅـه کـې دي، چـې د اسـلام او اسـلامي نظـام ځلانـده رڼـا تتـه کـړي او دې هـدف د رسـيدو لپـاره يـې مختلفـې حربـې او جګـړې پـه لاره اچولـې، چـې لانـدې يـې د يـو څـو يادونـه کـوو:

۱ـ نظامـي جګـړه: د نظامـي جګـړې پـه اړه هـر څـوک ښـه پوهيـږي، چـې د تـورې، غشـي، ټانـګ، تـوپ، او د طيـارو لـه جنګـه عبـارت دى، پـه کراتـو ـ کراتـو کافرانـو او د هغـوى لاسـپوڅو پـه اسـلامي خـاورو يرغـل راوړى، يواځـې پـه تيـره يـوه پيـړۍ کـې د افغانسـتان پـر خـاوره د نـړۍ دريـو لويـو امپراتوريـو يرغـل کـړى، خـو للـه الحمـد د اللـه تعالـى پـه ځانګـړې نصـرت پـه افغانسـتان کـې يـې د پښـې ايښـودلو ارام ځـاى نـدى پيـدا کـړى، بلکـې افغـان مؤمـن ملـت يـې پـه وړانـدې داسـې کلکـه مبـارزه کـړې، چـې د افغانسـتان خـاوره يـې د دوى لپـاره سـره تنـور ګرځولـې وه او دوى ټولـو تـه يـې پـه افغانسـتان کـې غـاښ ماتوونکـى جـواب ورکـړى، نظامـي جګـړه تـر هغـو نـورو لـږه اسـانه ليـده شـي، ځکـه دښـمن معلـوم، ځـاى يـې معلـوم او هـدف يـې معلـوم وي، ولـې سـخته هغـه جګـړه ده، چـې ډيـرى انسـانان يـې پـه اړه فکـر نـه کـوي او پـه ګـوره کـې د زهـرو پـه څيـر وي، چـې راتلونکـې کرښـې بـه مـو پـه هغـې را څرخـې. ان شـاءالله

۲ـ فکـري جګـړه: فکـري جګـړه تـر عسـکري/ نظامـي جګـړې لـږه څـه ډيـره خطرناکـه ده، پـه نظامـي جګـړه کـې ښـارونه ورانيـږي، ولـې رغـول يـې کـوم مشـکل کار نـدى، البتـه پـه فکـري جګـړه کـې مسـتقيما د اسـلامي امـت د ځوانانـو مفکـوره تـر بريـد لانـدې نيـول کيـږي، د جهـاد او شـهادت روحيـه پکـې وژل کيـږي، د پـردې فرهنـګ او کلتـور تابـع کيـږي، د باطـل د دښـمنى فکـر يـې لـه منځـه ځـي، فخشـا، بـې حيايـي، حـرام خـوري، دوکـه، دروغ او نـور نـاړوه اعمـال يـې مـزاج جوړيـږي، دا پـه خپلـه هغـه څـه دي، چـې کافـران يـې د لاسـته راوړنـې پـه پـار پـه مليـاردونـو ډالـر خرچـه کـوي، کلـه چـې يـو څـوک فکـري ازادي ونـه لـري، د تـل لپـاره بـه غـلام او د نـورو لاسـپوڅى وي، دا چـې څنګـه د باطـل لارويـان خپلـه فکـري جګـړه پـر مـخ وړي، لـه کومـو لارو ځانونـه خپـل هـدف رسـوي او د اسـلامي امـت کومـه طبقـه تـر بريـد لانـدې راولـي؟ هغـه پوښـتنې دي، چـې يـو نـه څـو کتابونـه پـرې ليکلـى شـي، د دې لپـاره چـې ليکنـه اوږده نشـي، د يـو څـو هغـو کتابونـو يادونـه اړينـه بولـو، چـې دا پوښـتنې يـې پـه پـوره وضاحـت سـره جـواب کـړي دي:

فکري روزنه

د يرغل په وړاندې

اسلام او ګلوبلايزيشن

غربي دسيسې

اندلس

ايمان پلورونکي

د کليسا تر شا پټ زاړونه

شرق او غرب يوه لنډه پرتله

څو ورځې په اندلس او البانيا کې

د مذهب په جامه کې د اشغال مزدوران

عالم اسلام وسائل اور مسائل

۳ـ د اصطلاحاتـو جګـړه: تـر نظامـي او فکـري جګـړې را وروسـته تـر ټولـو ډيـره خطرناکـه جګـړه هغـه د اصطلاحاتـو جګـړه ده، شـرقي او غربـي بلاکونـه کوشـش کـوي، چـې لـه هغـو اصطلاحاتـو کار واخلـي، چـې د اسـلامي نـړۍ د ځوانانـو کدرونـو روحيـه ور وژنـې، د پرمختـګ فکـر يـې لـه ذهنـه وباسـي او تيـر بـرم تـه د بيـا سـتنيدو جانـس يـې خيـال ور وپيژنـي، د مثـال پـه ډول، «دريمـه نـړۍ» لـه ډيـرى ځوانانـو اورو چـې «مـوږ پـه دريمـه نـړۍ کـې ژونـد کـوو او مـوږ نشـو کـولاى، لـه نـړۍ سـره د سـيالى جوګـه شـو» دا هغـه اصطـلاح ده، چـې شـرقي او غربـي بلاکونـه يـې د اسـلامي نـړۍ لپـاره کاروي، پـدې سـره دوى غـواړي، چـې اسـلامي نـړۍ او پکـې ميشـت مسـلمانان کمـزوري معرفـي کـړي، داسـې وښـايي چـې مسـلمانان تـر ټولـو وروسـته پاتـې او غيـر متمـدن خلـک دي، چـې دې چـارې زمـوږ د ځوانانـو پـه روح او روان بانـدې نـاړه اعيـز کـړى، سـره لـدې چـې د کافرانـو اقتصـادي مشـين د اسـلامي نـړۍ پـه خامـو مـوادو چليـږي، همـدا ډول د «ترهګـرۍ» اصطـلاح د سـوچه ملسـمانانو لپـاره ايجـاد شـوي، شـرقي او غربـي بلاکونـه، چـې ترهګـري څـه ډول تعريـف کـوي؛ نـو د هغـه تعريـف لـه مخـې همـدوى تـر ټولـو لـوى ترهګـر بلـل شـي، خـو دا چـې دوى دا اصطـلاح د سـوچه مسـلمان لپـاره کاروي، موخـه يـې همـدا ده تـر څـو ځينـي مسـلمانان لـه هغـو نـور څخـه متنفـر کـړي او خپلمنځـي بـې بـاوري پکـې را منځتـه کـړي او نتيجـه کـې خپلـې موخـې او رسـيدنه ورتـه وکـوي.

د پورتـه جګـړو د يادولـو هـدف دا وو، چـې اسـلامي مبارزيـن بايـد دې جګـړو او خطرناکـو پايلـو تـه يـې متوجـه وي، پـه هيـڅ وخـت کـې بايـد د غـرب دسيسـې بابيـزه ونـه ګڼـل شـي او پـه وړانـدې يـې بايـد د اسـلامي امـت ځوانـان خپـل ور پـورې مسـؤليت ادا کـړي.

خپلمنځي تړون او تشويق

اسـلامي مبارزيـن کـه پـه هـره برخـه کـې وي، بايـد د اتحـاد تارونـه يـې قـوي وي، خپلمنځـي تـړون ولـري، دا ځکـه چـې د اتحـاد پـه نتيجـه کـې هغـه څـه تـر لاسـه کيدلـى شـي، چـې د اسـلام او اسـلامي ټولنـې د رفـاء سـبب کيـږي، کلـه چـې د اتحـاد او يـو تـر بلـه د تشـويق فلسـفه د اسـلامي امـت پـه ځوانانـو کـې مـړاوې شـي؛ نـو بيـا ځـوان قشـر پـه ډيـره اسـانه طريقـه خپـل مسـير بدلـوي او د پراديـو پـه لمسـون د خپلـو ارزښـتونو ريښـې باسـي، د دې لپـاره چـې ځوانـان مـو خپلـو اسـلامي او ملـي ارزښـتونو تـه ژمـن پاتـه شـي؛ نـو اړينـه ده، چـې د دوى پـه هڅونـه او تشـويق زيـات کار وشـي، د مثـال پـه ډول يـو مبـارز پـه ټويټـر، فيسـبوک، وټسـاف او ټيليګـرام کـې مبـارزه کـوي، بايـد د ده څرګندونې/فوسـتونه د مشـرانو مبارزينـو لـه خـوا خوښ/لايـک کـړل شـي او لانـدې وربانـدې تشـويقي ځرونې/کمنټونـه وکـړل شـي، تـر څـو پـه راتلونکـي کـې د ښـه خدمـت جوګـه شـي، همـدا اتحـاد دى، چـې ملتونـه پـه پښـو دروي او همـدا اتحـاد وو، چـې د افغانسـتان متحـد ملـت پـه يـوه پيـړۍ کـې درې سـترو او نړيوالـو امپراتوريـو تـه ماتـه ورکـړه.

د انتقاد لپاره زمان او مکان

هـر انسـان حـق لـري، چـې سـالم انتقـاد وکـړي او هغـه څـه پـه ګوتـه کـړي، چـې د يـوې ټولنـې او نظـام پـه لمـن تـور داغ جـوړوي، کلـه چـې يـو نظـام منتقديـن ونـه لـري او دا نظـام لـه سـالم انتقـاد سـره مـخ نـه شـي؛ نـو نشـي کـولاى خپلـو غلطيانـو تـه متوجـه شـي، کلـه چـې سـالم انتقـاد نـه وي؛ نـو بيـا هغـه تجربـې تکراريـږي، چـې پايلـه بـه يـې يواځـې نقصـان وي، چـې جبـران بـه يـې سـخت وي؛ نـو ويلـى شـو، چـې سـالم انتقـاد د يـوه نظـام اساسـي ضـرورت دى، البتـه د انتقـاد لپـاره زمـان او مـکان بايـد پـه پـام کـې ونيـول شـي، کـه د انتقـاد لپـاره زمـان او مـکان پـه پـام کـې ونـه نيـول شـي؛ نـو بيـا خـداى مـه کـړه د يـوې تيروتنـې د اصـلاح او پـه ګوتـه کولـو پـر ځـاى بلـه لويـه تيروتنـه کـوو، ځينـې مبارزيـن ملګـري پـه سوشـل ميډيـا کـې انتقـاد کـوي او دا تـر ټولـو موثـره طريقـه ګڼـي، خـو دې تـه پـام نـه کـوي، چـې د سوشـل ميډيـا لـه لارې دښـمن تـه څومـره خـام مـواد پـه لاس ورکـوي، د مثـال پـه ډول د امريـکا غـږ وي او اې ډيـوه راډيـو يـو راپـور خپـور کـړ، د راپـور عنـوان يـې همـدا وو چـې: آيـا طالبـان پـه خپـل منـځ کـې پـه يـوه خولـه دي او کـه اختـلاف پکـې شـته؟ د دې لپـاره چـې د اسـلامي امـارت پـه منـځ کـې د اختـلاف پـه طـرف لمـن ووهـي، زمـوږ د مبارزينـو ملګـرو پـه ټويټونـو يـې اسـتدلال کـړى وو، دا ځکـه چـې زمـوږ مبارزينـو ملګـرو د انتقـاد لپـاره مـکان نـه وو سـنجولى او د انتقـاد لپـاره يـې ټويټـر ښـه بللـى وو، همـدا ډول ځينـې داسـې وختونـه وي، چـې هيـڅ د انتقـاد لپـاره جـوړ نـه وي، اسـلامي مبـارز بايـد پـه هغـه وخـت کـې لـه انتقـاد څخـه ډډه وکـړي، د مثـال پـه ډول پـه افغانسـتان کـې د ښـځو د پوهنتونونـو پـه اړه د لـوړو زده کـړو وزارت لـه لـوري يـو مکتـوب خپـور شـو، چـې د پوهنتونونـو دروازې دې تـر امـر ثانـي پـورې بنـدې پاتـې شـي، مخکـې لـدې چـې د لـوړو زده کـړو وزارت يـې پـه اړه وضاحـت ورکـړي، چـې ولـې يـې دا کار وکـړ، ځينـو مبارزينـو غوغـا جـوړه کـړه، چـې دا هيـڅ ښـه ونـه شـول، سـره لـدې چـې لـه وضاحـت وروسـته همدغـو مبارزينـو چـې غوغـا يـې جـوړه کـړې وه، پـه خپلـه همـدې وضاحـت تـه دلائـل تراشـل او لـه مکتوبـه يـې دفـاع کولـه؛ نـو لنـډه دا چـې هـر اسـلامي مبـارز چـې پـه يـوه نظـام بانـدې نيوکـه او انتقـاد کـوي، بايـد وخـت او ځـاى يـې پـه ذهـن کـې ملحـوظ کـړي، نـه داسـې چـې نـه وخـت تـه کتـل کيـږي او نـه ځـاى تـه، ځکـه دا کار د يـوې تيروتنـې د اصـلاح پـر ځـاى نـورې ډيـرې تيروتنـې لـه ځانـه سـره لـري.

څيړنه او پلټنه

يـو بـل شـئ چـې د اسـلامي مبـارز لپـاره ډيـر اړيـن دى، هغـه څيړنـه او پلټنـه ده، کـه يـو مبـارز ملګـرى پرتـه لـدې چـې پـه يـوه موضـوع بانـدې نـه وي خبـر او دى يـې شـاربي، د دې پـر ځـاى چـې د مشـکل پـه حـل بريالـى شـي، نـوره هـم موضـوع تـرې پيچلـې کيـږي، څيړنـه او پلټنـه د مبـارزې هغـه مهـم عنصـر دى، چـې اللـه تعالـى يـې پـه قـرآن کريـم کـې داسـې بيانـوي: يَٰٓأَيُّهَا الَّذِينَ ءَامَنُوٓا إِن جَآءَكُمْ فَاسِقٌۢ بِنَبَإٍ فَتَبَيَّنُوٓا أَن تُصِيبُوا قَوْمًۢا بِجَهَٰلَةٍ فَتُصْبِحُوا عَلَىٰ مَا فَعَلْتُمْ نَٰدِمِينَ.[سُورَةُ الحُجرَات:٦]

# د مصیبت او تاوان پر وخت د غم او پښېمانۍ خبرې مه کوه!

**مولوي نورالحق مظهري**

ژباړه: که یو شی در ورسېږي نو ته داسې مه وایه چې که چېرې مې داسې کړي وای نو داسې او داسې به شوي وای بلکې ووایه د الله تقدیر وو هر کار چې الله یې وغواړي کوي یې ځکه چې لو(که چېرې) عمل د شیطان را خلاصوي.

توضیح: یعنې کله چې د یو مصیبت سره مخامخ کېږي نو داسې مه وایه چې که چېرې مې داسې کړي وای او یا داسې سوي وای نو دغه مصیبت به نه را رسېدلای؛ ځکه چې د داسې خبرو کول انسان ته دروازې د شیطاني کارونو او باورونو خلاصوي چې هغه د الله پر قضاء او قدر پښېماني او غمګیني ده او پر الهي تقدیر باندې یو ډول نیوکه او اعتراض دی.

بس سړی به داسې وایي: چې الله پاک په تقدیر کې همداسې لیکلي وه ارومرو دغه پېښه کېدل؛ او د الله پاک خپله خوښه ده چې کوم شی وغواړي هغه کوي هېڅوک او هېڅ شی یې مخه نه شي نیولای.

په بل حدیث کې راځي:احرص على ما ينفعك ولا تعجز، فإن غلبك أمر فقل: قدر الله وما شاء صنع، وإياك واللو فإن اللو تفتح عمل الشيطان. [مسند ابي يعلي۶۳۴۶]

ژباړه: پر هغه شي باندې کوښښ وکړه چې تاته ګټه رسوي او مه ناتوانه کېږه که یو شی درباندې غالبه سو نو داسې ووایه: د الله تقدیر دی کوم شی چې د الله خوښه وي هغه کوي او ځان د لو (که چېري) څخه وساته ځکه چې په هغه باندې د شیطان د کار دروازه خلاصېږي.

یعنې تل د ځان لپاره د ګټې د لاسته را وړلو په هڅه کې وسه او ځان ناتوانه مه بوله خو که په یو کار کې ناکامه سوې او ستا ناخوښه حالت درباندې راغی نو داسې ووایه چې دا د الله تقدیر دی کوم شی چې الله یې و غواړي هغه کوي.

او هېڅکله داسې مه وایه: کاشکي مې فلانی کار نه وای کړی او یا که مې فلانی کار نه وای کړی نو داسې به نه کېدل، ځکه چې د داسې خبرو په کولو پر انسان د شیطاني کارونو او باورونو دروازې را خلاصېږي چې هغه د الله پاک پر تقدیر پښېماني او غمګیني ده او یو ډول اعتراض دی پر تقدیر باندې.

وإن أصابك شيء فلا تقل: لو أني فعلت لكان كذا وكذا ولكن قل قدر الله وما شاء فعل فإن - اللو - تفتح عمل الشيطان. [مسند ابي يعلي۶۲۵۱]

# دښمن نه پېژندل، نیمه ماتې ده!

**دادمحمدناوک**

په جګړو کې نظامي پوهان په دې تاکید کوي چې څومره پر ځان باوري یې، په هماغه اندازه د خپل مخالف پېژندل درته ضروري دي، که یې ونه پېژنې نو معنی به یې دا وي چې نږدې نیمايي ماتې دې خوړلې؛ سونزو تر میلاد وړاندې یو چینايي لیکوال تېر شوی وروسته یې یادښتونه را ټول شوي او ما کلونه مخکې پښتو کې «د جنګ هنر» په نوم لوستي و، چې تازه یې ورم کال بل ځوان د بیا ژباړې کوشش هم کړی، دې اثر کې پر همدې موضوعاتو بحث شوی او له دښمن سره د تعامل لپاره دښمن پېژندنه نیمه بریا ګڼل شوې.

تېرو دوو لسیزو کې د مسلمانانو او کفارو جګړه کې د یرغلګرو خپل کتابونه، ویناوې او بحثونه پر دې معترف دي چې دښمن یې نه پېژاند او دې نه پېژندنې ورته سرخوږی جوړ کړی و.

لاندې ویډیو د هغو سرښندونکو ده، چې له همدې خدای پامانۍ وروسته بیا را ونه ګرځېدل، د دوی همدا غېږې به وروستۍ وې، له خپل معسکر، خپل استاد، خپل رهبر او خپلو ملګرو سره وروستي دیدن دوی تر کړیکو رسول، دلته وینئ یو ځوان شاته لاړ شي او مخ ته لاسونه ونیسي، بېخي دا صحنه ورته د تحمل نه ده؛ دا چې دې ځوانانو تر دې اړیکو ور ها خوا، د کورنۍ عاطفي ارتباط، مېرمن، خور، ورور، ادې، اولادونه او د کلي او جومات ملګري څنګه بې خدای پامانۍ پرېښي او دوی ترې په اوږده سفر روان دي، یو بل درد دی، چې د دوی پر زړونو پروت دی!

د دې صف پر وړاندې ولاړو خلکو دا باورولی نه شوای، دا یې زړه ته نه لوېده او د خپل دښمن دا اړخ یې هېڅ نه پېژانده، چې دوی به له دې ټولو عاطفي اړیکو، ځوانیو، ارمانونو او دې رنګینۍ او له ځوږه ډکې نړۍ له درک سره سره تر ځان تېرېږي، په پنډغالي به یې ور ننوځي او بیا به نه راوځي؛ نو مجبور و خپلې دې بې وسۍ ته داسې دلایل وتراشي چې د دوی په عقلونو برابر وي او ضمناً یې پر وړاندې بې جوړې له مروت ډک دښمن بد معرفي کړی وي، حتی مشرانو به یې پرې نادرې ټاپې لګولې، مثلاً د کفارو د اړخ د داخلي جګړه مارو د وخت مشر حامد کرزي په رسمي کنفرانسونو کې دا پرله پسې تکراوله، چې د دوی پر وړاندې ولاړ مسلمان د سرښندونکو دې ځوانانو ته پیچکارۍ ورکوي، داسې پیچکارۍ چې له ټولو عاطفو اړیکو یې خالي کوي او نشه غونډې یوازې په یوه هدف پسې ځي؛ خو دوی له ټولو طبي او ټکنالوژیکي امکاناتو سره د خپلو پوستو په اوسېدونکو کله هم داسې پیچکاري ونه کړه، چې د مسلمانانو پر وړاندې جګړه کې نورې ټولې عاطفي اړیکې او مجبوریتونه شاته غورځار کړي او ځان بایللي وګڼي!

دا صحنې زموږ تاریخ دی، زموږ هویت دی او مرد هغه دی چې د خپل مخالف پر مردانګۍ اعتراف وکړي، د امت دا سرسپارلي د تاریخ هغه زرین باب جوړوي چې خوندیتوب، تشریح او تر نورو رسولو لپاره یې د دوی په څېر تقوادارو قلمونو ته اړتیا ده، نه زموږ ګنهکاري ګوتې!

رب عزوجل مو دي له دې سرښندونکو سره حشر کړي! آمین

# خوارج؛ نهال پیوند شده‌ی تروریزم بین‌المللی

**رحمت‌الله فیضان - ترجمه: نسیم‌زاده**

به ظلم و خشونتی که یک فرد در حق فرد دیگر جایز می‌داند طبق اصطلاحات معاصر تروریسم گفته می‌شود. ریشه این کلمه لاتینی است و برای اولین بار توسط فرانسوی‌ها به فرهنگ سیاسی وارد شد.

حوادث خونینی که بین سال‌های ۱۷۹۲ تا ۱۷۹٤ در فرانسه رخ داد به عنوان لکه سیاهی در تاریخ فرانسه ثبت شده و دوره‌ی تروریسم نامیده می‌شود. با گذشت زمان، اصطلاح «بمب تروریستی» به وجود آمد و نخستین افرادی که اصطلاح مذکور را به حافظه عمومی مردم انتقال داد آلمانی‌ها بودند که در سال ۱۹٤۱ شهر روتردام را بمباران کردند.

بمباردمان نمودن شهر روتردام یک بمباران استراتژیک به شمار می‌رفت که در جنگ جهانی دوم توسط نیروی هوایی جرمنی بر کشور هلند صورت گرفت. هدف از این حمله حمایت از نیروهای آلمانی و تسلیم شدن شان در برابر هلندی‌ها بود.

کشور ما نیز از جمله کشورهایی به شمار می‌رود که در مقاطع مختلف تاریخی از تهاجمات ناجوانمردانه‌ی استکبار تروریسم جهانی در امان نمانده است. از آغاز سال ۱۸۳۹ میلادی تا اولین و آخرین تهاجم انگلیسی‌ها؛ سپس تا سال ۲۰۰۱ که ائتلاف غربی در نیمه‌شب بر سرزمین مقدس ما حمله تروریستی انجام داد و ۲۰ سال کامل دوام پیدا نمود، این تراژدی تکرار می‌شود.

ایالات متحده آمریکا و هم‌پیمانانش در جریان عملیات تروریستی خود خانه‌های مسکونی مردم را به ویرانه تبدیل کردند، هزاران نفر را به شهادت رساندند، میلیون‌ها افغان را به ترک خانه‌ها و کاشانه‌های خود مجبور نمودند و بسیاری دیگر به اسم دموکراسی، آزادی، توسعه، مردم‌سالاری و سایر اسم‌های زیبا فریب داده شدند و مجبور به استفاده‌ی سلاح علیه ملت خود گردیدند. پس از شکست تروریسم غربی در افغانستان، طاغوت بین‌المللی تعدادی از منحرفین آموزش‌دیده‌ی خود را که لباس اسلام به تن دارند و شعار جهاد را سر داده‌اند، پشت‌سر گذاشت. تعلیم یافته‌گان مذکور (خوارج) نهالان پیوند شده‌ی تروریسم بین‌المللی هستند که جهت بی‌ثبات ساختن و تزلزل جامعه اسلامی مورد استفاده قرار می‌گیرند.

خوارج دارای سابقه طولانی می‌باشد که برای اولین بار در آغاز خلافت حضرت علی کرم‌الله‌وجهه علیه ایشان سر بلند نمود؛ حضرت علی کرم‌الله‌وجهه و همه کسانی را که با وی دوست بودند، تکفیر نمود. آنان در طول تاریخ فقط در مقابل مسلمانان ایستاده‌اند و جنگ‌های سخت و ظالمانه زیادی انجام داده‌اند.

هدف بزرگ شان ترویج نفاق و ایجاد هرج و مرج در جامعه اسلامی است. افراد مذکور به هیچ نوع ارزش انسانی و اخلاقی قائل نمی‌باشند، قسم ویران‌کاری، تباهی و در نهایت نابودی خود را خورده‌اند.

این یک حقیقت مسلم است که خوارج در حال حاضر به خاطر قوت استکبار جهانی و تضعیف امت اسلامی خود را می‌کشند. مادامی که ریشه‌های گروه خوارج ریشه‌یابی نشده و شبکه‌هایی که از آنها حمایت می‌کنند به‌شکل علنی افشا نشوند، نابود کردن شان اندکی دشوار خواهد بود.

# بیت‌الحکمه چگونه منبعِ الهام‌بخش علوم در جهان شد؟

**سیف‌الدین احمدی**

وقتی از تاریخ و گذشته‌ی اسلام و مسلمانان آگاهی درست موجود نباشد در برابرِ موجی از پیشرفت و تمدن کنونی محکوم به عقب‌مانی هستیم. اما زمانی که تاریخ عمیقاً مورد مطالعه قرار گیرد، می‌شود به این چنین باورها خطِ بطلان کشید. در این میان مهم‌ترین چیزی که جالبِ توجه می‌کند گام‌به‌گام بودنِ قدرت علمی، فکری و تمدنی مسلمانان همراه با قدرت‌سیاسی و دولت‌داری می‌باشد. وقتی از بیت‌الحکمه به نام «فرهنگستان پرآوازه»، «بزرگ‌ترین کانون انتقال علوم در تاریخ بشر» و... یاد می‌شود نباید قدرت‌سیاسی مسلمانان چیزی جدا از آن در ذهن به تصویر کشیده شود؛ زیرا این مرکزِ سرشار از علم در عصر طلایی و در زمان خلافت اسلامی عباسی ایجاد شده بود. بیت‌الحکمه چیست و از چه جایگاهی برخوردار بود، و تمدن اسلامی چه نقشی در آن بازی کرده است؟ بیت‌الحکمه یکی از عظیم‌ترین کانون علوم در تاریخ بشر به شمار می‌رود. این مکان مرکز پژوهش و تحقیقات علمی بود که در آن محققان و دانشمندان به تألیفات و اختراعات می‌پرداختند. در واقع بیت‌الحکمه بزرگ‌ترین مرکزی بود که مردم از هر قشر و طبقه برای بحث، تحقیق و مطالعه در آن جمع می‌شدند. سرانجام این پایگاه علمی بزرگ در سال ۱۲۵۸م توسط مغول‌ها ویران گردید. گفته می‌شود پس از انداختن کتب و داشته‌های عملی آن در دریای دجله، آب دریا از رنگِ جوهر دست‌نوشته‌های آن رنگین شد.

«آدرین برنهارد» نویسنده‌ی امریکایی در تحقیقی پیرامون این مکان علمی می‌نویسد: «امروزه داستان بیت‌الحکمه کمی ساختگی به‌نظر می‌رسد. اما این فرهنگستان بلندآوازه در حقیقت نیروگاه فکری بغدادِ عصر طلایی اسلام و خاستگاه مفاهیم متحول‌کننده‌ی ریاضی همچون «صفر مشترک» و «اعداد عربی» امروزی ما به شمار می‌رود. بیت‌الحکمه که اواخر قرن هشتم به‌عنوان کلکسیون خصوصی خلیفه هارون‌الرشید تاسیس شد، دانشمندان را از هر گوشه‌ی جهان به سوی بغداد می‌کشید. این مرکز با ابعادی به اندازه‌ی کتابخانه امروزی انگلستان در لندن و یا کتابخانه ملی فرانسه در پاریس بود. اما اکتشافات صورت گرفته در آن منجر به معرفی زبان ریاضی قدرت‌مندی شد که بعداً سراسر دولت عباسی، اروپا و در نهایت کل جهان را فراگرفت.»

وی از بهره‌مندشدنِ اروپاییان از کشف علوم توسط مسلمانان از «فیبوناچی» یکی از دانشمندان ایتالیایی یاد می‌کند که وی در سال ۱۲۰۲م حاصل آموخته‌هایش از سرزمین‌های اسلامی را تحت عنوان «کتاب حساب» نوشت. کتاب فیبوناچی یکی از اولین آثار غربی است که عددنویسی عربی را شرح می‌دهد. قبل از نوشتن این کتاب، غربی‌ها از اعداد رومی استفاده می‌کردند، که در آن ضرب و تقسیم کاری سختی بود. در اعداد رومی وقتی ۲۰۲۰ می‌نوشتند این گونه بود:MMXX ؛ قبل از آن وقتی تاجری می‌خواست «دو گوسفند» بنویسد، می‌توانست تصویری از دو گوسفند را بر روی خاک بکشد. اما اگر می‌خواست «بیست گوسفند» بنویسد، کشیدن تصویر ۲۰ گوسفند غیرعملی و دشوار بود. زمانی که اعداد عربی ۱ ۲ ۳ ۴ ۵ ۶ ۷ ۸ ۹ و نیز علامت صفر (۰) توسط مسلمانان کشف گردید -شاید در حال حاضر برای ما چیزی جالب به نظر نرسد، اما در آن زمان- تحولِ بزرگی را در علم ریاضی رقم زد، که تا آن زمان هیچ ملتی به آن دست نیافته بود. این تحول بزرگ علمی دقیقاً در بیت‌الحکمه صورت گرفت. نخستین کتاب حسابِ دانشمند اروپایی در واقع بر حسابات الجبر و الگوریتم‌های «محمد بن موسی خوارزمی» استوار بود، که برای اولین بار روش سیستماتیک را برای حل معادلات درجه دوم بوجود آورد. خوارزمی که امروزه از وی به نام پدر الجبر نام برده می‌شود، زمانی رئیس و سرمنجم بیت‌الحکمه بود. جالب این‌که در آن زمان جامعه مسیحیت غربی در تاریکی فکری به سر می‌برد، و اما در فرهنگستان مسلمانان در بغداد، اختراعات بزرگ صورت می‌گرفت.

«برند روک» مؤرخ آلمانی در سال ۲۰۱۸م در مصاحبه‌اش گفته بود: «اگر اسلام نمی‌بود، دانش و دانشگاه به شکل امروزی وجود نمی‌داشت.» وی در پاسخ به این پرسش که آیا اسلام به اروپا تعلق دارد؟ می‌گوید: طبعاً، اسلام مانند یهودیت و بودیسم [به اروپا] تعلق دارد. اروپا همواره از مفکوره‌های متنوع اسلام بهره‌مند شده و جریانات و دانش‌های جدید را با آن مدغم کرده است.»

بیت‌الحکمه در آن تاریخ طلایی از نخستین مرکزی بود که تولید فکری و علمی آن به گوشه‌گوشه‌ی جهان می‌رسید. در آن زمان مسلمانان نه‌تنها بر قلمروهای خود بلکه فراتر از آن برای ملت‌های دیگر نیز دست همکاری پیش می‌کردند. تا آن زمان هنوز بالکان در اروپای شرقی بدست مسلمانان فتح نشده بود که پس از فتح قسطنطنیه در سال ۱٤۵۳م توسط «محمد فاتح» اتفاق بزرگ به وقوع پیوست.

بسیاری از تاریخ نویسان و دانشمندان به این نظر اند که اگر در تاریخ سیاسی جهان دو الی سه حادثه‌ی بزرگ و نقطه ی عطف وجود داشته باشد، فتح قسطنطنیه از جمله برجسته‌ترین آن‌ها محسوب می‌شود. پس از آن بود که مسلمانان جغرافیای اسلام را تا قلب اروپا گسترش دادند. در واقع رسیدن به عصر طلایی، نتیجه‌ی فتح و پیروزی نظام اسلامی و قدرت‌سیاسی مسلمانان بود که پابه‌پای آن پیشرفت علمی، تمدنی و فکری صورت گرفت که جهان و جهانیان را از علم پُر برکت ساخت.

زمانی فکرش نمی‌شد که مسلمانان با این‌همه علوم، تمدن و قدرت‌سیاسی در زمان خلافت عباسی، به زمین بخورند؛ همچنان در عصر فتوحات مسلمانان در زمان خلافت عثمانی همین گونه تصور می‌شد. مگر چرا همه‌ی این‌ها ازهم پاشید و نابود شد؟ دلیل عمده‌ی آن به سقوط و فروپاشی دولت و قدرت‌سیاسی مسلمانان بر می‌گردد. زمانی که کفار به ویژه استعمارگران غربی از قدرت و ظرفیت مسلمانان به تنگ آمده بودند آنچه را که راه مغلوب ساختن مسلمانان فکر می‌کردند، نابودی دولت و حاکمیت سیاسی آن‌ها بود. کینه و دشمنی این استعمارگران در برابر اسلام و مسلمانان چنان عمیق و ریشه‌دار بود که می‌شود آن را در جنگ‌ها و گفته‌های شان آشکارا مشاهده کرد.

در جنگ جهانی اول (۱۹۱۷م) زمانی که «جنرال آلنبی» فرمانده‌ی انگلیسی نیروهای متفقین بر فلسطین تسلط پیدا کرد گفت: «اکنون جنگ‌های صلیبی به پایان رسیده است!» هدفش این بود که خلافت اسلامی عثمانی در برابر متفقین شکست خورده است. آن‌ها قرن‌ها تاریخ و گذشته‌ی خود را خوب به‌یاد دارند؛ آن‌ها همچنان به یاد دارند که فلسطین و قبله‌ی نخست مسلمانان برای اولین بار در زمان خلافت حضرت عمر رضی‌الله‌عنه فتح گردید؛ بار دیگر در سال ۵۸۳ هجری - ۱۱۸۷م و در جنگ حطین، به رهبری صلاح‌الدین ایوبی از چنگِ صلیبی‌ها آزاد شد. اکنون که یهود بر آن تسلط یافته است هیچ نیرویی نیست که به نجات آن بپردازد.

این‌ها همه بخشی مهم و ارزشمندی از تاریخ، تمدن، شگوفایی و نهایت قدرت‌سیاسی مسلمانان اند که شناخت، دعوت و رفتن به سوی تطبیقِ گام‌به‌گام آن از واجبات محسوب می‌شود؛ آنچه که با تأسف باید گفت، در عصر ما پیروی از مفکوره‌ی دولت-ملت، رفتن و حتا فکر کردن به این مهم را محکوم می‌کند. پس چه‌چیزی باعث شد که از هویت اصلی خویش دور مانده و به آن بیگانه شدیم؟!

## شعر و ادب

### آه از این قوم و از آئین او

**محمدصادق‌طارق**

آه از ایـن قوم و از آئین او
صـد هزار جعل و دروغ در دین او
قوم جاهل خون چشـد تا زندگی
اندکی بهتر شـود از بردگی
لیک نداند بـرده‌گان را کام کجا؟
میـل کجا! آغاز کجـا! انجام کجا؟
قوم جاهل خـود ز انجام ناخبر
دیـن حق آموخته انـد با یک نظر
چون خـوارج در پی اِبطال حق
هیـچ تعلق نیسـت با اعمال حق
خنجـرش با خون مسـلم رنگ رنگ
کشـتن کافر برایش عار و ننگ!
حکـم تکفیرش ز بیـت پنج کتاب
سسـت و بی‌بنیاد بود در اضطراب
«طارقا» این قـوم را منزل کجا؟
چون ز خود گم گشـته‌اند سـاحل کجا؟

### غزل

**تپاندزُهاد**

پر زړه لرمـه د زخمونو امېل
د پاکو پاکـو ارمانونو امېل
د زړه پـه تل کې راسره دي مدام
د شـهید یار د یادګارونو امېل
ځانګـي را ځانګي مـې د فکر ټال کې
د ورک جانـان د تصویرونو امېل
د ژونـد انځـور مې د وطن انځور دی
راسره مل تـل د غمونو امېل
د هجرانونو په کږدۍ کې اوسـم
رمې رمـې د تکلیفونو امېل
سـلګۍ سـلګۍ وهم یواځې یمه
تل بدرګـه د فریادونو امېل
تپانـد زُهاد د خپل قسـمته ژاړم
راسره اوسي د دردونـو امېل

### زغم او صبر

**مولوي‌عبدالسلام‌ضعیف**

د زغم او صبر تحمل ته حوصله لټوم
انس او الفت مینې محبت ته فلسفه لټوم
دنفاق جرړې چې ددې ټاټوبي سم وباسي
عزم متین فولادي کلکه اراده لټوم
چې افغانان واړه په یو ټغر بې بله کېني
داشتراک او اشتمال داسې ماده لټوم
دکاڼي کرښه چې یې رونه فیصله وګرځي
دقضایاوو حل ته لو قوې جرګه لټوم
داتحاد او اتفاق دټینګیدو لپاره
پاخه رمزونه او سپېڅلې داعیه لټوم
داخوت لاره چې سیخه قرآني نسخه کړي
د ورورولۍ لپاره داسې کلمه لټوم
سترې مې ښکارې قدمونه دهجرت لپاره
نورپه خپل کلي کې ثبات او سکینه لټوم
ضعیف ناخوالي دژوندون آرشیف ته سپاري
دغه احوال ته دتفسیر یوه جمله لټوم

# زویه لامې نوره هم سوځوې!!!

## خاطره

